# اې عباسه، اې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره، له الله تعالی څخه د دنیا او آخرت خېر او سلامتیا وغواړه

د عباس بن عبد المطلب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما وويل: ای د الله رسوله! ماته داسې څه راوښیه چې زه يې له الله تعالی څخه وغواړم. هغه وويل: «له الله تعالی څخه د سلامتيا سوال وکړه»، څو ورځې مې تېرې کړې بيا ورته راغلم، نو ومې ويل: اې د الله رسوله! ماته داسې څه راوښيه چې زه يې له الله تعالى څخه وغواړم، نو هغه راته وفرمايل « اې عباسه، اې د رسول الله صلى الله عليه وسلم تره، له الله تعالى څخه د دنيا او آخرت خېر او سلامتيا وغواړه».

[صحيح لغيره] [الترمذي او احمد روايت کړی دی]

د رسول الله صلى الله عليه وسلم تره عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وغوښتل چې هغه ته د الله تعالى څخه د سوال کولو لپاره يوه دعا ور زده کړي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته دا دعا ورزده کړه چې له الله تعالى څخه په دين، دنيا او آخرت کې له آفتونو او عيبونو څخه د سلامتيا سوال وکړي، عباس وايي: له څو ورځو وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم ته بيا ور وګرځېدم او ورڅخه مې وغوښتل چې يوه دعا راوښيي چې له الله تعالى څخه يې وغواړم، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: اې عباسه، اې د رسول الله صلى الله عليه وسلم تره، له الله تعالى څخه د عافيت غوښتنه وکړه، چې په دنيا او آخرت کې هر شر درڅخه دفع کړي او هر خير دې نصيب کړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2932